## وزارت امورمهاجرین وعودت کنندگان

## د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو وزارت

## د اطلاعاتو او عامه اړیکو ریاست

# خبرپاڼه خبر نامه

**2 میزان _سال 1402**



# اخبار مهم

افغانستان - منطقه - جهان

## فهرست مطالب


عنوان | صفحه

بیش از هزار تن مهاجر افغان از پاکستان به وطن برگشت نمودند -------------------------------------------------- 1

بیش از هزار خانواده در ولایت ننگرهار مساعدت شد--------------------------------------------------------------- 1

هزار خانواده در ولایت خوست کمک خوراکی دریافت نمودند---------------------------------------------------------- 2

غرض جلب کمک به عودت کننده گان، جلسه ادارات وموسسات در ولایت ننگرهار دایرشد --------------------------- 3

رسنۍ: برېتانیا په هوټلونو کې پر افغان کډوالو د خوړو وېشل بند کړي ---------------------------------------------- 5

د یونان سوېل لوېديځو اوبو کې نږدې ۱۰۰ کډوال ژغورل شوي ------------------------------------------------------ 5

آلمان: د کډوالو د منلو ظریفت مو وروستي حد ته رسیدلی --------------------------------------------------------- 7

د اسیا په المپیکي سیالیو کې ۸۴ افغان ورزشکارانو ګډون کړی ------------------------------------------------------ 8

# متن کامل اخبار

## بیش از هزار تن مهاجر افغان از پاکستان به وطن برگشت نمودند

ویب سایت وزارت



یک هزار و 600 تن مهاجر افغان مقیم پاکستان ، از طریق مرز سپین بولدک ولایت قندهار از تاریخ 29 الی 31 سنبله به وطن برگشت نموده است.

به اساس معلومات آمریت سرحدی سپین بولدک ولایت قندهار 250 خانواده مهاجر که شامل یک هزار و 600 تن بودند، طور جبری و داوطلبانه از پاکستان عودت کردند.

منبع علاوه نمود که افراد مذکور بعد از ثبت در آمریت سرحدی، جهت اخذ کمک به دفتر سازمان بین المللی مهاجرت معرفی شدند و یکتعداد آنها که به امراض مختلف مصاب بودند ، از جانب شبکه سلامت طور رایگان مورد تداوی قرار گرفتند.

## بیش از هزار خانواده در ولایت ننگرهار مساعدت شد

ویب سایت وزارت




به اساس گزارش ریاست امور مهاجرین ولایت ننگرهار یک هزار و 931 خانواده درآن ولایت از تاریخ 21 الی 27 سنبله مساعدت خوراکی و غیر خوراکی دریافت نموده اند.

خانواده های مذکور که در ولسوالی های سرخ رود و بهسود آن ولایت قبلا مستحق شناخته شده بودند، 4 قلم مواد خوراکی و یک بسته تخم نباتات و سبزیجات را غرض زرع از جانب موسسه هماهنگی امدادهای بشردوستانه ُبدست آوردند.

طبق یک خبر دیگر 75 خانواده آسیب پذیر و عودت کننده ازطریق ریاست امور مهاجرین ولایت ننگر هار کمک نقدی را به تاریخ 30 سنبله بدست آوردند.

برای هریک از خانواده های مذکور که توسط کارمندان ریاست مهاجرین ننگر هار سروی و شناسایی شده بودند، مبلغ 14 هزار افغانی، کمک کمیته بین المللی نجات توزیع شد.

## هزار خانواده در ولایت خوست کمک خوراکی دریافت نمودند

ویب سایت وزارت



ریاست مهاجرین ولایت خوست از توزیع مواد خوراکی برای هزار خانواده به تاریخ 28 سنبله خبرداد.

خانواده های مذکور توسط اداره مهاجرین آن ولایت قبلا در ولسوالی های سپیری و دوه منده سروی ومستحق شناخته شده بودند.

به گفته منبع برای هریک از خانواد های یادشده 4 قلم مواد خوراکی کمک موسسه صندوق بشردوستانه افغانستان تحت نظارت اداره مهاجرین آن ولایت توزیع شد.

## غرض جلب کمک به عودت کننده گان، جلسه ادارات وموسسات در ولایت ننگرهار دایرشد

ویب سایت وزارت



بمنظور جذب کمک و آماده گی عرضه خدمات به مهاجرین عودت کننده از پاکستان جلسه ای تحت ریاست معاون والی ننگر ها و با اشتراک نماینده های شماری از ادارات و موسسات به تاریخ 30 سنبله در مقر آنولایت دایرشد.

درآغاز جلسه مولوي سعيد احمد بنوري معاون والی ننگرهار از افزایش بازگشت کننده ها به آنولایت خبر داد و از نهاد های کمک رسان خواست تا در بخشهای مختلف به آنها کمک نمایند وبرای عرضه کمکهای زمستانی باید از همین اکنون دست به کار شوند.

حاجی باز محمد عبدالرحمن رئیس امور مهاجرین گفت که اخیراً 17 هزار و827 خانواده مهاجر از طریق تورخم به کشور بازگشته اند که از این میان 13 هزار و 200 خانواده در ننگرهار اقامت داشته اند، واکثریت آنها به کمک های اولیه و سرپناه نیازدارند.

نماینده ریاست معارف گفت که آماده جذب دانش آموزان عودت کننده به مکاتب آنولایت اند و در قسمت تهیه قرطاسیه وکتب درسی به همکاری نیاز دارند.

نماینده سازمان بین المللی مهاجرت گفت که روزانه حدود 200 خانواده از طریق تورخم به کشور می آیند و به هر خانواده مبلغ 7 هزار افغانی پول نقد و وسایل مورد ضروروت به ایشان توزیع می کنند و برعلاوه برای 500 تن برگشت کننده و 85 نفر دیگر فرصت های شغلی را فراهم شده است و برای هریک از 2000 خانواده دیگر کمک 210 دالری، کمک زمستانی را در نظر گرفته اند.

وی افزود که برای ساخت و ساز سه باب مکتب در ولسوالی مومند دره ، بخش صحی و سایر زمینه ها نیز کمک می کند.

مسئول موسسه داکار گفت که در زمینه های کمک نقدی، آب پاک و کشاورزی با عودت کننده هاکمک می کنند.

نماینده انجمن مهاجرین دنمارک با یاد آوری کمک 19 هزارو 50 دالر برای 64 خانواده بیجا شده در تورخم و 49 خانواده در ولسوالی اچین از دوام مساعدت خویش با عودت کننده ها اطمینان داد.

## رسنۍ: برېتانیا په هوټلونو کې پر افغان کډوالو د خوړو وېشل بند کړي

مهاجر نیوز

د اوپن ډېموکراسي په نوم یوې برتانوي رسنۍ لیکلي دي چې د برېتانیا د کورنیو چارو وزارت پر هغو افغان کډوالو د خوړو وېشل بند کړي دي چې لا هم په هوټلونو کې اوسېږي.

د برېتانیا حکومت د ۲۰۲۳ په مارچ میاشت کې اعلان کړی و چې شاوخوا اته زره افغان کډوال چې واک ته د طالبانو له رسېدو وروسته دغه هېواد ته راوستل شوي دي له هوټلونو څخه دایمي کورونو ته انتقالوي .

اوس یو شمېر هغه افغانان چې لا هم د برېتانیا په هوټلونو کې اوسېږي وایي چې حکومت پرې د خوړو وېشل بند کړي دي. د اوپن ډیموکراسي په نوم رسنۍ برادفورډ کې له یوه افغان کډوال سره مرکه کړې ده چې وایي هوټل کې یخچال او د اشپزۍ لپاره امکانات نه شته.

نوموړی زیاتوي: «موږ له مرکز څخه لرې اوسېږو. دلته یوازې پیټزا او برګر شته«.

دغه افغان کډوال چې افغانستان کې یې له برېتانوي ځواکونو سره دنده ترسره کړې او د تخلیې عملیاتو په جریان کې برېتانیا ته ور وستل شوی وایي ماشومان یې په ورځ ګېډه شوونځي ته ځي ځکه د پیزا او برګر دوکانونه ۲۴ ساعته پرانیستي نه دي.

هغه زیاتوي چې لویان هم نه شي کولی چې د اقتصادي دلایلو له کبله درې وخته ډوډۍ وخوري.

نوموړی یو له هغو ۹۵ افغانانو دی چې په برادفورډ کې د بې سرپناهۍ له ګواښ سره مخ دی. د برادفورډ د ښاري شورا حقوقي دنده لري چې له دغو افغانانو سره مرسته وکړي.

دغې شورا اوپن ډېموکراسي ته ویلي دي چې د خوړو پر وېشلو د بندیز پرېکړه په «ملي» کچه شوې ده.

د «نه منلو وړ» حالت

د رسمي شمېرو له مخې د اګست میاشتې په ۳۱مه د برېتانیا په هوټلونو کې د افغانانو شمېر ۱۸۲۶ کسانو ته رسېد.

د برېتانیا د کورنیو چارو وزارت په وېبپاڼه کې راغلي دي چې له مارچ میاشت څخه تر اګست میاشت پورې ۸۵ سلنه افغانانو ته سرپناه ورکړل شوې او یا د سرپناه وړاندیز ورته شوی دی.

د سرچینې له مخې په دغه نېټه ۲۳۹ کسان د روغتیایي دلایلو له کبله په لنډمهالو استوګنځیو کې اوسېدل او ۱۵۸۷ تنو نورو چې د سرپناه وړاندیزونه یې ترلاسه کړي وو دایمي استوګنځیو ته انتظار کاوه.

په ورته مهال د برېتانیا د سیوري د دفاع وزیر لوک پولارډ پر محافظه کارانو نیوکه کړې او د افغانانو بې سرپناه پاتې کېدل «د نه منلو وړ» بللي دي.

نوموړي زیاته کړې ده: «ډېر د شرم ځای دی چې ځینې [کسان] اوس د دې توان نه لري چې خپلو ماشومانو ته مناسبه خواړه ورکړي.» هغه دا وضعیت د حکومت د ناکامۍ «شرمناکه» نښه بللې ده.

## د یونان سوېل لوېدیځو اوبو کې نږدې ۱۰۰ کډوال ژغورل شوي

مهاجر نیوز

یوناني چارواکي وایي چې د دغه هېواد ساحلي ځواکونو د چهارشنبې په ورځ د سپتمبر ۲۰مه د یونان له سوېل لوېدیځو اوبو څخه نږدې ۱۰۰ کډوال ژغورلي دي.



**Website:** *https://morr.gov.af*

**Twitter:** *https://twitter.com/MoRRAfg*

**Facebook**: *https://www.facebook.com/morr.gov.af2*

ساحلي څواکونو په یوه خبرپاڼه کې ویلي دي چې ژغورل شوي ۹۳ کډوال په یوه تفریحي بېړۍ کې سپاره ول چې د پیلوس ښار په ۷۴ کیلومترۍ کې یې موقعیت درلود.

په خبرپاڼه کې زیاته شوې چې ۶ کډوال د یوې بلې تفریحي بېړۍ له خوا پیلوس ټاپو ته انتقال شول. د دغو مهاجرو په ډله کې یوه ناروغه ښځه هم وه چې د کالاماتا روغتون ته وړل شوې ده. پاتې ۸۷ مهاجر چې د ساحلي څواکونو له لوري بدرګه کېدل د دوو ټانکري کښتیو له خوا کالاماتا بند ته انتقال شوي دي.

دا هماغه سیمه ده چې په تېره جون میاشت کې د کډوالو یوه کښتۍ پکې ډوبه شوه. یاده کښتۍ کې چې له لیبیا څخه یې خپل سفر پیل کړی و له ۵۰۰ څخه تر ۷۰۰ کسان سپاره ول چې له دې ډلې څخه ۱۰۴ یې تنه وژغورل شول او د ۸۲ تنو نورو مړي وموندل شول. دې پېښه کې سلګونه نور سمندر په اوبو کې لادرکه شول.

بیا ولولئ :یونان کې د سلګونو کډوالو د کښتۍ په ډوبېدو کې څه پېښ شول؟

تر دغې غمیزې درې میاشتې وروسته تېره اونۍ له پېښې څخه ۴۰ ژوندي پاتو شویو مهاجرو د یونان حکومت پر وړاندې محکمې ته شکایت وکړ .دغه کسان پر اتن تور لګوي چې له سمندري قوانینو څخه یې سرغړونه کړې او د کښتۍ د سپرلیو په ژغورنه کې پاتې راغې دی.




پیلوس ښار د یونان پیلوپونیز سیمه کې موقعیت لري. انځور: ګوګل مپز

شاوخوا ۱۴۰ تنه اژه سمندر کې ژغورل شوي

هر کال د منځني ختیځ، افریقا او اسیا کډوال هڅه کوي چې د سمندر له لارې په کښتیو کې ځانونه یونان یا ایټالیا او وروسته نورو اروپایي هېوادونو ته ورسوي. ډېرې دغه کډوال د ترکیې له سواحلو څخه د اژې سمندر له لارې د یوناني ټاپوګانو پر لور حرکت کوي.

د یونان ساحل څواکونه زیاتوي چې د تېرې چهارشنبې په ورځ یې د لېسبوس ټاپو په ساحلو اوبو کې ۱۱۵ کډوال او د ساموس له ساحلي اوبو څخه ۲۴ تنه نور ژغورلي دي .

د کډوالو په چارو کې د ملګرو ملتونو د وروستیو شمېرو له مخې د روان کال له پیل څخه تر دې دمه شاوخوا ۲۰۰۰۰ کډوال د اوبو او وچې له لارې یونان ته رسېدلي دي. له دغې ډلې څخه نیمايي يې د جولای او اګست په میاشتو کې ځانونه یونان ته رسولي دي. تېر کال له ترکیې څخه شاوخوا ۱۹۰۰۰ کډوال یونان ته اوښتي وو.

له تېرو څو کلونو راهیسې د کډوالو د حقونو مدافع بنسټونه او رسنۍ په منظمه توګه پر یونان تور لګوي چې له ترکیې سره پر پوله له مهاجرو سره تاوتریخجن چلن کوي او کډوال له خپلې خاورې څخه په شا تمبوي. خو د شواهدو سربېره یوناني چارواکو تل دا ادعاوې رد کړې دي.

## آلمان: د کډوالو د منلو ظریفت مو وروستي حد ته رسیدلی

مهاجر نیوز

د آلمان ولسمشر فرانک والتر شټاین مایر ایټالیا ته له خپل سفر وړاندې د پولو د کنټرول او په اروپايي اتحادیه کې د کډوالو د «عادلانه ویش» غوښتنه کړې ده. د آلمان ولسمشر وویلي چې د ډېرو کډوالو په منلو کې له ستونزو سره مخ دي.

شټاین مایر له یوې ایټالوي ورځپاڼې «کوریره دلا سرا (Corriere della Sera)» سره په مرکه کې دې ته په اشاره چې آلمان د ۲۰۲۳ کال په لومړۍ نیمايي کې د اروپايي ټولنې په کچه د پناه غوښتنې ډېرې قضیې درلودې وویل: «آلمان د ایټالیا په څېر د خپل ظریفت تر بریده رسیدلی دی«.

د آلمان ولسمشر زیاته کړه چې آلمان او ایټالیا «درانه پېټي زغمي.» نوموړي په اروپا کې د کډوالو په «عادلانه ویش» ټینګار کړی.

شټاین مایر په بهرنیو سرحدونو کې د «قوي کنټرول» غوښتنه کوي

شټاین مایر د چهار شنبې په ورځ ایټالیا ته خپل درې ورځینی سفر پیل کړ.

[په اروپا کې د مهاجرت بحران ـ سوالونه او ځوابونه]

نوموړی به د ایټالیا له ولسمشر سرجو ماتارلا سره وګوري او د ایټالیا په سویل کې به د سیسیل له جزیرې دیدن وکړي.

په دې وروستیو کې د ایټالیا چارواکو د لامپدوزا له کوچنۍ جزیرې سیسیل ته د یو شمېر مهاجرو په انتقالولو پیل کړی دی یعني له هغه جزیره څخه چې ډېر کډوالو ورغلي دي.

شټاین مایر اروپا کې د خلکو محدودولو په اړه وویل: «په بهرنیو پولو کې مو «تر ټولو قوي څار» ته اړتیا ده«.

ایټالیا او آلمان د کډوالو پر سر اختلاف لري

د آلمان ولسمشر ټینګار وکړ چې ایټالیا باید د کډوالو په مسله کې یوازې پرینښودل شي او له دغه هیواده باید د «ډېرو بشرپالو مسؤولیتونو» په منلو مننه وشي.

[آلمان ته د راتګ پروګرام؛ تر اوسه هېڅ افغان آلمان ته نه دی راغلی]

د ایټالیا ښۍ اړخي حکومت د هغو قوانینو د تصویب له کبله چې د کډوالو حقونه محدودوي او په سمندر کې د کډوالو د ژغورنې د عملیاتو مخه نیسي، د نیوکو سره مخامخ شوی دی.

شټاین مایر د ایټالیا او المان له حکومتونو غوښتي د اوسنیو اختلافونو په اړه دې یوې هوکړې ته ورسیږي.

تیره اونۍ آلمان له ایټالیا د کډوالو داوطلبانه منل تر نامعلومو مودې وځنډول.

آلمان د کورنیو چارو وزارت ویلي چي ایټالیا پخپله د هغو پناه غوښتونکو بیرته اخیستلو څخه ډډه کوي چي د دوبلین د قانون سره سم د دوی د پناه غوښتني د غوښتنلیکونو د پروسي د پلي کولو مسولیت لري.

په آلمان کي د «کډوالو د وروستي حد» په اړه یو ځل بیا بحثونه تاوده شوي

یو شمیر آلماني سیاستوالو په دې وروستیو کي وړاندیز کړی چي آلمان کي باید په کلني ډول د کډوالو د منلو لپاره یو حد وټاکل شي.

جرمنی تر بل امر پوری له ایټالیا څخه د کډوالو منل وځنډول

د محافظه کاره اپوزیسیون مشر فریدریش مارتس وویل چي دا شمیر باید په کال کي ۲۰ زره تنه وټاکل شي. خو د سوسیال دیموکرات ګوند د کورنیو چارو وزیرې نانسي فایزر دغه ډول یو حد رد کړی دی.

په ۲۰۲۳ کال کي، آلمان شاوخوا ۱۷۵ زره د پناه غوښتني غوښتنلیکونه ترلاسه کړي دي او همدا راز د اوکراین د جګړې له امله تر یو میلیون ډیر بې ځایه شوي آلمان ته راغلی چي دغه کډوال په پناه غوښتونکو کي نه شمیرل کیږي.

## د اسیا په المپیکي سیالیو کي ۸۴ افغان ورزشکارانو ګډون کړی

آژانس اطلاعاتی باختر




د چین هېواد په هانګ جو ښار کي د اسیا المپیکي سیالیو د نولسم پړاو پرانیسي مراسم ترسره شول، چي د ۴۵ اسیایي هېوادونو ورزشکارانو او د المپیک ملي کمېټې استازو ګډون کړی.

له افغانستان څخه هم په دې مراسمو کي ۸۴ ورزشکارانو او د افغانستان د المپیک ملي کمېټې استازو شتون درلود.

د چین هېواد د مسولینو په یادو سیالیو کې د ګډونوالو هرکلی کړی او هم یې زیاته کړې، چې ورزش د ملتونو او هېوادونو ترمنځ د یووالي بهترینه وسیله ده.

د یادونې وړ ده چې د یادو سیالیو د پیل له مراسمو څخه وروسته به د افغان ورزشکارانو لوبې هم پیل شي، چې په ۱۵ مختلفو رشتو کې به افغان ورزشکاران سیالۍ ترسره کړي.